VERMONT
DEPARTMENT OF HEALTH

*جولای 2023*

# د سېلاب څخه وروستو بهر د ملبې پاکولو پرمهال خپل ځان خوندي کړئ

کېدی شي وروستيو سېلابونو زمورږ په ټولنو کې د ځينو ځايونو خونديتوب زيانمن کړی وي. له کوره بهر ځايونو کې د پاتې شوې ملبې څخه فزيکي خطرونه د خلکو دپاره ترټولو غټ خطر دی او کولی شي ټپونه رامنځته کړي.

د سېلابي اوبو ککړتياوې د روغتيايي خطر د رامنځته کولو احتمال نه لري. مېکروبونه د لمر تر وړانګو لاندې د اوږدې مودې لپاره ژوندي نه پاتې کېږي او باران د دوي په لیرې کولو کې مرسته کوي. که چېرې کیمیاوي توکي پاتې وي، نو په خورا ټيټه کچه کې به وي.

ماشومان، هغه خلک چې د سا اخیستلو ستونزې لري (لکه سابندي)، او هغه خلک چې مدافعتي نظام یې کمزوری وي، باید له سېلاب څخه وروسته په پاکولو کې مرسته ونکړي.

## خپل لاسونه ومينځئ.

- له سېلاب څخه اغېزمن شويو سيمو کې کار کولو څخه وروستو خپل لاسونه مينځل ښه کار دی.

## خوندي کوونکي جامې واغوندئ.

- د ارزوني او پاکولو پر مهال پتلون او اوږده لستوني، بوټان، او دستکلې واغوندئ ترڅو ځان خوندي کړئ.
- که هوا دوړجنه وي، نو عينکې او N95 ماسک واغوندئ.

## د کیمیاوي ککړتیا د نښو خبرتیا ورکړئ.

- که چېرې تاسو د کیمیاوي ککړتیا نښې وويني لکه د تېلو ځلا، نو له دغه ځايه لرې اوسېږئ او د ورمونټ ايالت د ليک شويو موادو ډلې ته خبرتيا ورکړئ –
**1-800-641-5005 يا 802-828-1138 ته زنګ ووهئ.**

د نورو مالوماتو او د څرنګوالي د ویډیو ګانو لپاره: [HealthVermont.gov/Flood](https://HealthVermont.gov/Flood)